# DATABADSE SHORT NOTE

Ketabton.com

SEPTEMBER 21, 2019

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# Database

Database is an organized collection of logically related data

د ډيتابيس اساس Table دي

ډيټا بيس دوه اصلي وظيفي لري

- **Record keeping** د معلوماتو ساتل
- **Retrieval** د معلوماتو د موندلو او بيرته راکولو ورتيا

Data: ډيټا هغه خام مواد دی چي پروسيس پري نه وی اجرا شوی

**Information:** اجرا شوی ، منظم شوي او ترتيب شوی ډيټا ته ويل کيږي.

❑ Examples of Information: د انفرميشن ډيټا مثالونه

- List of students studying DBA
- Exam grades of a particular student
- Bank statement of the past 3 months

- **Data vs Information** **د ډيټا او انفرميشن تر منځ توپيرونه**
  - د انفرميشن لپاره ډيټا شرط ده
  - انفرميشن output مواد دي
  - انفرميشن product يا محصول مواد دي
  - ________________________________
  - ډيټا لپاره انفرميشن شرط نه دی
  - ډيټا input مواد دي
  - ډيټآ خام مواد دي

**Database استعمال ځايونه**

✓ Banking: all transactions

Wiqade

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ Airlines: reservations, schedules
- ✓ Universities: registration, grades
- ✓ Sales: customers, products, purchases
- ✓ Manufacturing: production, inventory, orders, supply chain
- ✓ Human resources: employee records, salaries, tax deductions
- ✓ And many more…

**له ډیټا بیس څخه مخکې څه شی استعمالیدل؟**

✓ **کاغذي سیستم:** مخکي ډیټا په کاغذونو کي لیکل کیدل او په هارډفایل کی ذخیره کیدل

**تاوانونه:**

- د Security نشتوالي
- Recode پیدا کول پکي مشکیل وو
- وخت ضایع کیدل
- په ډیر مشکیل سره پکي Edit کیدل

✓ Flat file system: په دغه سیستم کي ډیټا په هادي Document کی ذخیره کیدله لکه word, Excel, ......

**Limitations of Flat File Systems:** دغه ډول ډیتابیس ځیني ستونزي درلودل

- Separation and isolation of data
- Duplication of data
- Data dependence
- Incompatible file formats

## Database Systems

د ډیټآبیس سیستم هغه برخه چي ډیتابیس بلل کیږي هغه د ټیبلونو یوه مجموعه ده

ډیټا بیس سیستم له څلورو شیانو څخه جوړ شوی چی په لاندي ډول دي

Prepared: ABDUL RAHIM WIQADE Email: Wiqade99@Gmail.com Phone: 0764008879

(c) ketabton.com: The Digital Library



The database

The DBMS

Application Programs

Users

**Database Management System (DBMS)**

د **(DBMS)** پواسطه کولای شو چي ډیتابیس create یا جوړ کړو

**(DBMS)** وظیفه Management and control access دی

**(DBMS)** یوزر ته لاندي سهولتونه رامنځته کولای شي

- Define a database د ډیتآبیس مشخصول
- Create a database د ډیتابیس جوړول
- Maintain a database ستونزي د ډیتابیس پواسطه له منځه وړل
- Control access to the database.

ځوک کولای شي چي ډیتابیس ته لاس رسی ورته پیدا کړي

**(DBMS)** اصلي هدف دادی چی ډیتابیس ته معلوماتو ستور کول او بیرته چي هر وخت وغواړو بیرته لاس ته راوړل په اسانی او موثر ډول سره.

**:Facilities provided by a DBMS**

**DBMS کومي اسانتیاوي رامنځنته کوي:**

**Data Management** . 1

**:DDL (Data Definition Language)**

په **DDL** کی موږ ډیتابیس مشخصوو ، رامنځته کوو یی او ډیتا ورداخلوو

**DML (Data Manipulation Language)**

په **DML** کی یوزر کولای شي چی ډیتا insert, update, delete, اوretrieve کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په **DML** برخه کي Query language څخه استفاده کوو لکه SQL

**Controlled access:**. 2

دا د هر چا د لاس رسي څخه مخنيوی کوي مثالونه يی په لاندي ډول دي

**security system:** ډيتابيس د هر چا له لاس رسي څخه مخنيوی کوي

**integrity system** بايد ډيتابيس په هر حالت کي ثابت وي نه دا چي په يو ځای کي يو ډول او بل ځاي کي بل ډول وي

**concurrency control system:** په عيني وخت کي زيات يوزران يو ډيتابيس ته داخليدل او سيستم ټولو ته شير کول

**recovery control system:** د ډيټا له منځه تللو په وخت کی د recoveryسيستم درلودل

# DBMS Examples

- **Popular DBMS products are**
  - **Microsoft Access**
  - **Microsoft SQL Server**
  - **Oracle Corporation's MySQL**
  - **Oracle Corporation's Oracle Database**
  - **IBM's DB2**

## Database Application

ډيتابيس اپليکيشن د يوزر او DBMS ترمنځ ارتباط جوړوي او وظيفه يی **SQL statements** چي موږ ليکو هغه DBMS ته انتقالوي

اپليکيشن پروګرامونه کولای شو د سوفتوير جوړونکی لخوا تر لاسه کړو

مثال : که چيری اکسس پروګرام تر لاسه کوو بايد له مايکروسافټ څخه يی واخلو

## Users

هغه څوک چی ډيتابيس استعمالوی او کار ورڅخه اخلي

## Roles in the Database Environment

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور ډوله خلک دي چي په DBMS کار کوی یه ورسره اړیکه نیسي

1. ډیتابیس مودیران Data and database administrators
2. ډیزاینران Database designers
3. اپلیکشن جوړونکي Application developers
4. استمالونکي. End-users

## Data Administrators(DA)

ډیتابیس پلان او د جوړولو طریقه پکي موجوده ده په دی د ډیولوپر هیڅ کار نشته او ډیولوپر ته ورښودل کیږی چي کوم ډول ډیتابیس جوړ کړل شي.

**Data Administrator:** لاندي وظیفي لری

- پلان جوړوی
- د مشکیلاتو لپاره معیاري حل لاره پیدا کوي
- جوړونکي ته د ډیتابیس مشخصات ورپه ګوته کوي

## Database Administrators(DBA)

دا مسولیت لري(DA) کوم پلان ورکړی وو هغه مطابق فزیکیلي ډول ډیتابیس جوړ کړی لاندي وظیفي لري

- د ډیتابیس جوړول او د هغه تطبیق
- ډیتابیس ته به څوک داخلیدلای شی او کوم ډول کارونه ترسره کولای شي
- د جوړ شوي سیستم ستونزي له منځه وړل
- سیستم باید داسي عیار او جوړ کړي چي یوزر یی په اسانی سره استعمالولای شی

**DBA** تخنیکي کارونه ترسره کوي او **DA** د پوهي په واسطه پلان جوړوي

## Database Designers

موږ دوه ډوله ډیزاین کولای شو

1. Logical database designers
2. Physical database designers.

## 1 -Logical database designers

Prepared: ABDUL RAHIM WIQADE Email: Wiqade99@Gmail.com Phone: 0764008879

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندي مشخصات لري

- ډیټا او د ډیټا صفات رامنځته رامنځه کوی
- د ډیټا تر منځ اړیکه رامنځّه ته کول
- هغه شرایط چی په ډیټا لپاره وي باید په ډیټابیس کی ستور شي

## Logical database design

په عملي ډول د ډیټابیس رامنځته کول دی ته لوجیکل ډیټابیس ډیزاین ویل کیږي

## Database Designers

موږ کوم ډول ډیټأبیس ته طرحه جوړه کړي هغه ته د فزیکي شکل جوړولو لپاره DBMS ته ضرورت ده موږ نشو کولای چي په ورډ یا اکسل کي ډیټابیس رامنځته کړو

لاندی شیان پکي شامل دي

- موږ ټیبلي رامنځته کوو او ټیبلي یو بل سره وصلو لپاره PRAMARY KEY لګوو
- او د ډیټابیس لپاره لازم سکیورټي ولګول شي

### A design process suggestion for Microsoft Access

1. Determine the purpose of the database.
2. Find and organize the information required.
3. Divide the information into tables.
4. Turn information items into columns.
5. Specify primary keys.
6. Set up the table relationships.
7. Refine the design.
8. Apply the normalization rules

1. د ډیټابیس هدف باید معلوم وي
2. منظم معلوماتو پیدا کول
3. معلومات په ټیبلونو باندی ویشل
4. د هرډ ډول معلوماتو لپاره جلا جلا کالمونه جوړول
5. primary keys باید په څه شي باندي ولګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



6. د ټيبلونو تر منځ ارتباط ورکول
7. ډيزاين باندي تجديد نظر کوول
8. نورمال قوانين بايد پري APPLY کړو

## Application Developers

کله چي ډيتابيس جوړ شي نو بايد اپليکيشن پروګرام ورته جوړ شي تر څو په اساني سره کار ترسره کړي دغه مسوليت ددي خلکو دی

بايد **Developers** د retrieving data, inserting, updating, and deleting data اسانتيا رامنځته کړي

او دا پروګرامونه بايد 3RD او يا په 4TH کي جوړيږي

## End-Users

دا هغه يوزران دي چي د خپل ضرورت په اساس له ډيتابيس څخه ګټه اخلي او زده کوی يی

او **End-Users** بپه دوه دوله دي

1. **Naïve users**
   - دا له ډيتآبيس سره هيڅ اشنايی نه لري
   - دوی يواځي ځان دومره پوهه وي چی څرنګه کار تري اخسيتل کيږي

2. **Sophisticated users**
   - هغه يوزران دي چی د ډيتابيس په هر څه باندی پوهيږي
   - د ډيتابيس په اسانتيا باندي هم پوهيږي
   - دا USER په high-level query language باندي هم پوهيږی او ځانته پروګرام هم جوړولای شي

# Database System Life Cycle

ډيتابيس د معلوماتي سيستم مهمه برخه ده.
کله چی موږ وغواړو ډيتابيس رامنځته کوو بايد ټولي اړتياوي په نظر کی ونيسو د ډيتابيس په رامنځته کوولو کي لاندي شيان موجود دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Database Planning ډیټابیس پلان کول
- Requirements collection and analysis ډیټابیس اړتیاوي پوره کوول
- Database Design د ډیټابیس ډیزاین کوول
- Application Design د اپلیکیشن ډیزاین
- Prototyping د ډیټابیس یوه نمونه ښودل
- Implementation د ډیټابیس عملی کوول
- Data Conversion and Loading د ډیټا لوډل کوول
- Testing تجربه کوول
- And operational maintenance. او ستونزو له منځه وړل

**Database Planning:** ددی لپاره پلان جوړیږي چی موږ به ډیټابیس لپاره څه استعمالوو او د څه شي لپاره یی جوړوو او باید څنګه یي جوړ کړو او کوم هدف باید ولري

**Requirements Collection and Analysis:** هغه شرکت یا یو دوکان یا هري بلي برخی ته چي ډیټابیس جوړوي یا د هغه په اړه ټول انفرمیشن ولري تر څوډیټابیس کومه غلطي ونه لری

او دغه معلومات د ډیټابیس لپاره ضرورت دی

**Database Design:** ډیټابیس دری مرحلي لری

- **Conceptual Database Design:** په دي کي یواځي د یوی برخی لپاره ډیټابیس او د هغه ډول انتخابیږی
- **Logical Database Design:** د ډیټابیس لپاره خیالي ډیزاین جوړیږي
- **Physical Database Design:** په دي کي یو فزیکي ډول ډیټابیس رامنځته کوو

د ډیټا لپاره شرط ټاکه Relationship پکي رامنځته کوو Security ورکوو...

**Application Design:** ددی لپاره چی له ډیټابیس څخه په اسانی سره کار واخلو نو یو اپلیکیشن رامنځته کوو لکه په لاندي ډول

- Insert operation
- Update operation
- Delete operation

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Print operation

# User Interface Guidelines

- معنا دار سرلیک
- Fieldباید منظم وی
- کوم مخففات چي کاروو هغه باید هر ځای کي ثابت وي
- صحیح رنګ انتخابول
- ډیټا باید د لیدو وړ وي
- د غلطی په وخت کي باید میسج راکړي
- د فیلډ لپاره تشریحاتي مسجونه لیکل
- استعمال کي باید اسانه وی
- **Prototyping:** د یوزر لپاره یوه نمونه جوړول تر څو چي یوزر ته وښودل شي چی د ډیتابیس څنګه کار کوي
- This is an optional step in database system life cycle.

### Implementation

کله چی موږ ډیټابیس جوړ کړو غواړو چی دا عملي کړوپه دي کي لاندي شیان موجود دی

- Implementation of DDL statements
- Implementation of GUI
- Implementation of user views.
- Implementation of application programs
- Implementation of DML statements
- Implementation of security and integrity controls.

## Testing

**Learnability:** یوزر په څومره وخت کي کولاي شی چی له سیستم سره بلد شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Performance:** څه ډول د یوزر لپاره کار ترسره کولاي شي

**Robustness:** کله چي یوزر په سیستم کي غلطی رامنځته کوي نو سیستم څومره کولای شی چي د یوزر غلطي له منځه یوسي

**Recoverability:** که چیری له سیستم څخه معلومات ختم شو نو ایا سیستم کولای شی چی زمونږ معلومات Recoveryکړی؟

# The Relational Model

نن سبا له په ډیتابیس کی له له تولو نه زیات مهم موډلThe Relational Model دی

لومړی ځل په 1970م کال **,Dr Edgar Frank Codd** لخوا رامنځته شو دا په IBM کمپنی کی کارکوونکی وو

په دي موډل کي دوه ډوله مفهوم شتون لري

1. ډیتابیس د ریکارډ او د شیانو د ساتلو لپاره استعمالیږي
2. ډیتآبیس کی ډیتآ په تیبل کی ستور کیږي

په ډیتابیس کی thing ته **ENTITIY** وایي او **table** ته**RELATION** وایي

**Relation:** دوه بعدي تیبل ده چي له روو او کالم څخه جوړ شوي

او لاندي خصوصیات لري

- په Row کي Entity موجوده وي
- په کالم کي د Entity لپاره Attribute موجود وی
- هر Cell بیل بیل value لري
- په هر کالم کی باید یو ډول ډیتا موجوده وي
- هر کالم باید واحد نوم ولری
- د کالمونه ترتیب هیڅ مهم ندي
- د Row ترتیب هم مهم ندي
- هیڅ اجازه نشته چي دوه Row یو ډول ډیتا ونلري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Relational Database Model Terminology

په Relational Database کی لاندي اصطلاحات موجود دي

| | | |
|---|---|---|
| **Table** | **Row** | **Column** |
| **File** | **Record** | **Field** |
| **Relation** | **Tuple** | **Attribute** |

**Integrity Constraints:** زموږ ډیتابیس کي چي معلومات ستور کوو باید د هر وخت لپاره ثابت وي ددي لپاره لاندي دري اصول شتون لري

ددی دریو اصولو هدف دادي چي موږ د خپل ډیتابیس integrity رامنځته کړو چي زموږ ډیتابیس خومره ګټور دی

1. **The Domain Integrity Constraint:** ددی مانا دادي چي په یوکالم کي هر ډول ډیټا موجوده وي باید نوره ډیټاً یی هم همدغه data type ولري

| Student ID | First Name | Department | Phone | Address |
|---|---|---|---|---|
| 100 | Ahmad | IS | 0786778899 | Khost |
| 101 | Shaheen | IT | 0700800900 | Khost |
| 102 | Mohsin | IT | 0777885885 | Paktika |
| 103 | Kamal | IS | 0765889944 | Khost |
| 104 | Rahim | IS | 0799454545 | Logar |
| 105 | Rashid | IT | 0789123456 | Nangarhar |

Domaine integrity

(c) ketabton.com: The Digital Library



**The Entity Integrity Constraint:** زموږ ډیټا هره Rowباید ځانګړي ایډي باید لري تر څو له duplicate څخه مخنیوي وشي مثال:

| Student ID | First Name | Department | Phone | Address |
|---|---|---|---|---|
| 100 | Ahmad | IS | 0786778899 | Khost |
| 101 | Shaheen | IT | 0700800900 | Khost |
| 102 | Mohsin | IT | 0777885885 | Paktika |
| 103 | Kamal | IS | 0765889944 | Khost |
| 104 | Rahim | IS | 0799454545 | Logar |
| 105 | Rashid | IT | 0789123456 | Nangarhar |

unique value

د Relational database اساسي قاعده هم دغه ده

**The Referential Integrity Constraint:** که په ټیبل کي ډیټاآ یو بل سره ارتباط ولري نو په primary keyسره ارتباط ورکوو

نو د Master table ته له child table ته ارتباط ورکوو

## Relational Model Keys

Key: په یو ټیبل کی یو یا زیات کالمونه key بلل کیږي چې یو Row مشخص کوي

A key can be unique or non-unique.

Types of Keys

Surrogate Key

Composite Key

Candidate Key


Primary Key

(c) ketabton.com: The Digital Library



Foreign Key

Surrogate Key: يو unique ID ده چي د DBMS لخوا ورته مشخصيږي او په Auto ډول د سيستم لخوا ورته اضافه کيږي او هيڅ بدلون پکي نه راځي




Composite Key: دا هغه key ده چي يو يا زياتو کالمونو څخه پکي استفاده شوي وی

Candidate and Primary Keys: زمونږ ديتابيس کي ټولي تيبلي candidate key بلل کيږي له هغوي څخه يو انتخابيږي او primary key پري لګوو او کوم چي پاته شو هغوي ته alternate ويل کيږي

Foreign Key: دا د primary key معکوس دی په child Table باندي لګيږی او دا کي تکرار کيداي هم شی له بهر څخه په تيبل باندی لګيږي ځکه ورته foreign key ويل کيږي

## Functional Dependency

د دوو Attribute تر منځ ارتباط ته Functional dependency ويل کيږی

يا هغه حالت ته ويل کيږي چي په يو تيبل کي يو Attribute د نورو Attribute يا کالمونو په اړه معلومات ورکوي

او يو کالم د نورو کالمونو څخه نمانيده ګی کوي

| Object Color | Weight | Shape |
|---|---|---|
| Red | 50g | Ball |
| Blue | 50g | Cube |
| Yellow | 70g | Cube |

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دي کی object color د نورو کالمونو لپاره **determinant** او دا نور کالمونه په دی کالم پوري Depends دی

**Why Functional Dependency?**

**ولي يی موږ استعمالوو**

- په کالمونو کي د Candidate Key پيدا کولو لپاره استمعالوو
- مهم او مانا لرروونکی کالم د primary key لپاره انتخابوو
- د Normalization لپاره استعماليږي
- تکرار څخه مخنيوي کوي

**Primary and Candidate Keys Revisited:** يو يا يو نه زيات کالمونه چي د ټولو کالمونو څخه نمايندګي کوي primary key بلل کيږي
همدغه تعريف د candidate key لپاره هم دي
که چيرته په يوتيبل کي candidate key موجوده نه وي نو موږ دوه يا دري کالمونه سره يوځای کوو تر څو unique شي او primary key پري ولګوو

# Normalization

دهغي پروسي څخه عبارت دي کوم چي په ډاټابيس کی په يو داسی جوړښت يا Structure سره Organize يعني منظمه او ترتيب کوي تر څو د تکراري ډاټا، بي قاعدي Insertion، بي قاعدي Update او بي قاعدي Deletion څخه مخنيوي وکړي.
لومړی راځو په بي قاعدي والي Anomalies باندي خبري کوو تر څو د نارمل کولو اهميت په روښانه ډول باندي واضح کړو

**Anomalies in DBMS:** کله چي ډاټابيس منظم شوی نه وی له دري ډوله بي قاعدي والي يا Anomalies سره مخامخ کيږو چي له Insertion, Update and Deletion څخه عبارت دي

**NOTE:** تر څو د پورتنيو بي قاعديوالي يا Anomalies ستونزو ته حل ووايو او يادي ستونزي له منځه يوسو تر څو زمونږ ډاټا په کامله توګه نارمل وي د Normalization څخه په ګټي اخيستني کولاي شو پورته ياد شوي مشکلات حل او فصل کړو

**:Why Normalization?**

1. Rows contain data about an entity
2. Columns contain data about attributes of the entity
3. Cells of the table hold a single value
4. All entries in a column are of the same kind
5. Each column has a unique name
6. The order of the columns is unimportant
7. The order of the rows is unimportant
8. No two rows may hold identical sets of data values

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چي يو ټيبل پورتني خواص ولري Relation Model بلل کيږي خو بيا هم ستونزه لري نو ددي لپاره موږ بيا هم Normalization عمليه سرته سوي ترڅو زموږ ډيټابيس کی ستونزه رامنځته نشي مثالونه يی په سلايډونو کي واضح دي

## Modification Problem 1

که چيرته موږ په ټيبل کی Normalization ونلرو نو لاندي ستونزي رامنځته کيږي

- په ټيبل کی به يوه Entity بي ضرورته بار بار تکراريږي
- که موږ وغواړو دغه Entity اپډيټ کړو نو هر ځومره ځله چي تکرار وي هغومره ځله به آپډيټ کوو
- که چيرته موږ وغواړو چي يوه Entity ډيليټ کړو نو له هغه سره نوره Entity هم ختميږي

## Relational Design Principles

که چيرته موږ وغواړو چي يو داسي ټيبل رامنځته کړو چي هيڅ ستونزه ونلري لاندي اصول بايد مراعت کړو تر څو يو well-form ولرو

- هغه Relation ته موږ Well formed ويلاي شو چي هر Determinate بايد Primary key ولري
- هغه Relation چي Well formed نه وي نو موږ کولاي شو چي په دوو او يا څو برخو يی وويشو تر څو Well formed ته بدل شي

پورتني دوه اصول د Normalization زړه بلل کيږي

**نوټ:** Well formed هغه فورم ته ويل کيږي چي په ښه طريقي سره ډيزاين شوي وي

## Normal Forms

يو ټيبل په هغه حالت کي په نارمل فارم کي دی چي **(BCNF)** حالت ته راورسيږي

- ✓ **First normal form**
- ✓ **Second normal form**
- ✓ **Third normal form**
- ✓ **Fourth normal form**
- ✓ **Fifth normal form**
- ✓ **Domain/Key normal form**

لومړنی دري يی ډير مهم دي

**(1NF) First normal form:** يو ټيبل ته هغه وخت **(1NF)** ويل کيږي چي :

1. د Relation چي کوم اته شرطونه دي هغه يی بايد پوره کړي وي چي مخکي مو ويلي دي
2. يوه primary key ولري
3. بايد معلومات تکراري نه وي

**Second Normal Form (2NF):** يو ټيبل ته هغه وخت **(2NF)**ويل کيږي چي :

1. بايد په **(1NF)** کي وي
2. ټول هغه **nonkey attributes** بايد د Composite key پواسطه Determinate شوي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Third Normal Form (3NF):** یو ټیبل ته هغه وخت **(3NF)** ویل کیږي چې:

1 . هغه په **2NF** کی وي

2 . هیڅ non key Attribute د بل non key Attribute پواسطه نه Determinate کیږي

**Boyce Codd Normal Form (BCNF):** کله چې **Dr. Edgar Frank Codd** ډیتابیس رامنځته کړ نو ډیر وخت نه وو وتلي چې ده د نورمل فارم په باره معلومات ورکړ او وویل: یو ټیبل کیدای شي چې په دریم نارمل فارم کې هم غیري نورمال حالت امکان لري

په نتیجه کی **codd** او **R. Boyce** په ګډه سره یو بل نورمال حالت رامنځته کړ **(BCNF),** یې ونومول او هغه غیري نورمال حالت چې په دریم نورمال حالت کی هم له منځه نه وي تللي هغه پکي له منځه ځي

یو Relation ته مونږ هغه وخت BCNF ویلای شو چې هره **determinant** یی یو Candidate key وي

<u>تاسو کولای شی چې په یوه جمله کی Normalization تر پایه وپیژنی</u>

❖ <u>**I swear to construct my tables so that all nonkey columns are dependent on the key, the whole key, and nothing but the key, so help me Codd!**</u>

# The Normalization Process

د Normalization ترسره کولو لپاره دري مرحلي موجود دي که چیرته مونږ دغه دري مرحلي ترسره کړي نو مونږ یو ټیبل Normalize کړی

1 . په Relation یاTable کي Candidate key مشخصول

2 . په یو ټیبل کي functional dependencies مشخصول

3 . که چیرته په یو ټیبل کي هیڅ Determent،Candidate key نه وي نو دغه ټیبل not well formed نه دي نو دغه حالت صحیح کولو لپاره لاندی مرحلي سرته رسوو


a) مونږ ټیبل دوو برخو ویشوو او په نوی ټیبل کی functional dependency مشخصوو

b) او په نوی ټیبل کي په functional dependency باندي Primary key لګوو

c) او دوهم ټیبل کي چې د determinant وظیفه سرته رسوي Foreign Key لګوو

d) او وروسته د دواړو ټیبلونو تر منځ referential integrity رامنځته کوو

نوټ: د referential integrity څخه مراد Relationship دي



(c) ketabton.com: The Digital Library



د Normalize تیبل رامنځته کولو لپاره دریم حالت بار بار تکراروو تر څو Normalization رامنځته شي

پورتني مرحلي په مثالونو کی تشریح کوو

**Sample DESCRIPTION Relation and Data**

PRESCRIPTION (PrescriptionNumber, Date, Drug, Dosage, CustomerName, CustomerPhone, CustomerEmailAddress)

| PrescriptionNumber | Date | Drug | Dosage | CustomerName | CustomerPhone | CustomerEmailAddress |
|---|---|---|---|---|---|---|
| P10001 | 10/17/2017 | DrugA | 10mg | Smith, Alvin | 575-523-2233 | ASmith@somewhere.com |
| P10003 | 10/17/2017 | DrugB | 35mg | Rhodes, Jeff | 575-645-3455 | JRhodes@somewhere.com |
| P10004 | 10/17/2017 | DrugA | 20mg | Smith, Sarah | 575-523-2233 | SSmith@somewhere.com |
| P10007 | 10/18/2017 | DrugC | 20mg | Frye, Michael | 575-645-4566 | MFrye@somewhere.com |
| P10010 | 10/18/2017 | DrugB | 30mg | Rhodes, Jeff | 575-645-3455 | JRhodes@somewhere.com |

Step 1 of the Normalization Process

- په پورتني تیبل کي موږ candidate key مشخصوو
- PrescriptionNumber موږ ته Date, Drug, and Dosage مشخصوي یا یی Determent کوي که چیرته نسخه یواځي د یو کس لپاره وي نو بیا په دی صورت کی CustomerName, CustomerPhone, اوCustomerEmailAddress هم مشخصوي او PrescriptionNumber زموږ Candidate key بلل کیږي خو دا امکان نلري ځکه چي یو ډاکتر ته زیات ناروغان راځي

که چیرته دغه ټول فیلډونه په یو تیبل کي موجود وی نو یواځنی PrescriptionNumber دي چي ټول فیلډنه Determent کولاي شي

خو ستونزه دلته نه حل کیږي

**Step 2 of the Normalization Process**

- په دغه مرحله کی موږ functional dependencies مشخصوو
- په دي تیبل کی CustomerEmailAddress یو functional dependencies

کیداي شي

CustomerEmailAddress → (CustomerName, CustomerPhone)

خو کله کله ځینی کسان یو شان ایمل ادرس لري نو ددي ستونزي ختمولو لپاره بلي مرحلي ته داخلیږو

Step 3 of the Normalization Process

- په دي مرحله کی موږ هغه Determent معلوموو چيCandidate key نشي کیدلای لکه CustomerEmailAddress
- په دي مرحله کی چي ستونزه له منځه یوسو تیبل په دوو برخو ویشوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



| CustomerEmailAddress | CustomerName | CustomerPhone |
|---|---|---|
| ASmith@somewhere.com | Smith, Alvin | 575-523-2233 |
| JRhodes@somewhere.com | Rhodes, Jeff | 575-645-3455 |
| MFrye@somewhere.com | Frye, Michael | 575-645-4566 |
| SSmith@somewhere.com | Smith, Sarah | 575-523-2233 |

| PrescriptionNumber | Date | Drug | Dosage | CustomerEmailAddress |
|---|---|---|---|---|
| P10001 | 10/17/2017 | DrugA | 10mg | ASmith@somewhere.com |
| P10003 | 10/17/2017 | DrugB | 35mg | JRhodes@somewhere.com |
| P10004 | 10/17/2017 | DrugA | 20mg | SSmith@somewhere.com |
| P10007 | 10/18/2017 | DrugC | 20mg | MFrye@somewhere.com |
| P10010 | 10/18/2017 | DrugB | 30mg | JRhodes@somewhere.com |

اوس ټيبل Normalize شو او ستونزه له منځه لاړه

نور مثالونه يی په سلايډونو کي کتلاي شی

# The E-R Model (The Entity Relationship Model)

لومړی ځل لپاره په ۱۹۷۶ کال کی **Peter Chen.** لخوا رامنځته شو او مهم عناصر يی دادي

- **Entities**
- **Attributes**
- **Identifiers**
- **Relationships.**

E-R Modal موږ ته په ډيتابيس کی د Entity مجموعه رابنيي او د سيستم عناصر تشريح کوي او هغه دياګرام چي موږ يکي E-R Modal ډيزاين کوو هغه ته Entity-Relationship Diagram

يا E-R Diagram وايی

**Entity:** دا يواځي يو شخص نه ده او نه يو ځاي يا يو ابجيکټ ده هر هغه څه چی د هغي په اړه يوه اداره وغواړی چي معلومات وساتي Entity بلل کيږي

يا په بل ډول : په نړی کي چي هر څه دي د Entity په نامه ياديږي

او هره Entity خپل خصوصيات لري  چي په لاندي مثال کي ليدلاي شی

- Person — EMPLOYEE, STUDENT, PATIENT
- Place — STORE, UNIVERSITY, STATE, COUNTRY
- Object — MACHINE, BUILDING, AUTOMOBILE
- Event — SALE, REGISTRATION, RENEWAL
- Concept — ACCOUNT, COURSE, WORKCENTER

## Entity Class and Entity Instance

**Entity Class:** دEntity  ګانو مجموعه چي يو ډول خواص ولري Entity Class بلل کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



Entity Class موږ ته د Entity جوړښت هم په لاس راکوي چي دا کوم ډول Entity ده او هره Entity په E-R model کي یو نوم لري او Entity Class موږ په غټو حروفو لیکو مثال EMPLOYEE

**Entity Instance:** کله چي موږ د entity لپاره یو ټیبل جوړ کړو نو دي ټیبل کي هري entity ته که لږ وی او که زیات وی ټولو ته Entity Instance ویل کیږي

## Strong Entity vs Weak Entity Types

**Strong Entity Type:** هغه entity ده چي په نورو entity پوري تړاو ونه لری او ازاد او خپلواک وی مثال: Student, employee, automobile, course

**Weak Entity Type:** هغه entity ده چی د هغي موجودیت په نورو entity پسي تړاو ولري او ازاد او خپلواک نه وی Grade, salary, model, subject

او هغه entity چي په هغه پوري نوري week entity تړاو ولری نو هغه ته **identifier owner** یا **owner** ویل کیږي

## Attributes

هره entity یو یا څو attribute لري چي entity تشریح کوي

EmployeeName, DateOfHire, and JobSkillCode. مثال

**Properties of Attributes:** هر attribute ډیتاتایپ لري

- Character
- Numeric
- Date
- Currency, etc.

## Types of Attributes

**Simple or Atomic Attribute:** دا هغه attribute دي چي په برخو نه وېشل کیږي

- Examples: CAR (ID, Color, Brand)

**Composite Attribute:** دا هغه attribute دي چي په برخو ویشل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



Example: Name, Address

**Single Valued Attribute:** دا هغه attribute دي چي single ویلو په ټیبل کي ذخیره کوي

**Derived Attribute:** دا هغه attribute دي چي value یې محاسبه کیږي کله age, total price

**Identifier Attribute:** دا هغه attribute دي چي په ټول ټیبل کی unique وی

## Identifiers

هغه attribute چي د هغي پواسطه یوه entity مشخص کیدلی او پیژندل کیدلاي شي

**Single Identifier:** هغه attribute چي په یواځي ځان له تولي row څخه نمایندگی کولاي شي single identifier بلل کیږي کله ID

**Composite Identifier:** دا هغه identifier ده چي د دوه یا څو attributes د یوځاي کولو څّخه منځته راځی مثال: (FirstName, LastName, PhoneExtension).

Identifier کیداي شي unique وي یا non-unique وي

**Unique Identifier:** هغه identifier دي چي یواځي له یو entity instance څخه نمایندگي کوي مثال: Employee Number

**Non-Unique Identifier:** هغه identifier دي چي له یو سیټ څخه نمایندگي کوي

مثال: EmployeeName

## Identifiers vs Keys

Identifier له key سره ورته والي لري په relational model کي مگر دوه مهم توپیرونه لري

1. لومړي identifier فکري او خیالي مفهوم دي کیداي شي یو یا زیات attribute ولري
2. دوهم key به ضروري unique وي او Identifier کیداي شي unique وي یا-non unique وي

## Relationships

د دوو یا څو ټیبلونو لاجیکل تړاو ته Relationships وایي تر څو یو attributes له بل attributes سره تړاو ورکوي


**Binary and Ternary Relationships:** هغه Relationships چي له د دوو ټیبلونو تر منځ جوړشوي وی هغه ته دویمه درجه یا .binary relationships هم ویل کیږي

او که د دریو ټیبلونو تر منځ جوړ شوی وی هغه ته دریمه درجه یا .ternary relationships


هم ورته ویل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library






(a) Binary Relationship




(b) Ternary Relationship

## Types of Binary Relationships

**The one-to-one (1:1) relationship:** هغه Relationships دي چي د يو تيبل يواځي يو instance د بل تيبل له يو instance سره تړاو لري

په اسانه ډول سره داسي وايو ( چې يو تيبل له بل تيبل سره يواځې په يو key سره ارتباط ولري one to one Relationships بلل کيږي )




**The one-to-many (1:N) relationship:** هغه Relationships دي چي د يو تيبل يو instance د نورو تيبلو له ډيرو instance سره ارتباط ولري

يا هغه Relationships ته ويل کيږی چی د يو تيبل primary key د بل تيبل د foreign key سره connect وي




**The many-to-many (N:M) relationship:** هغه Relationships دي چي د زياتو تيبلونو instance له نورو زياتو تيبلونو instance سره ارتباط لري





## Maximum and Minimum Cardinality

د Relationships درى ډوله چي مور يې مخکي يادونه وکړه دا د Cardinality پواسطه طبقه بندی شوي ده چي هدف يې شمير دي

(c) ketabton.com: The Digital Library




**Maximum Cardinality:** هغه Cardinality ته ویل کیږي چي د یو entity زیات instance په یو Relationships برخه اخستلاي شی




**Minimum Cardinality:** هغه Cardinality ته ویل کیږي چي د یو entity کم instance په یو Relationships برخه اخستلاي شی

او که چیرته Cardinality صفر وی نو ضروري نه ده چي خامخا دی په Relationships برخه واخلي




## SELECT & PROJECT Operations in Relational Algebra

**The SELECT Operation:** دا Operation ددي لپاره استعمالیږي چي څو فرعي ریکارډونه له یو تیبل څخه انتخاب کړو

SELECT operation یو filter دي چي یواځي هغه ریکارډونه را اخلي کوم چي له condition سره برابر وي هغه condition چي موږ ورته ورکړي وي او هغه ریکارډونه چي موږ ته بنیی په افقي ډول وی

select operation دوه برخي لري

1. هغه ریکارډونه چي له condition سره برابر وی هغه موږ بنیی
2. هغه ریکارډوه چي له condition سره برابر نه وی له هغو ریکارډونو څخه صرف نظر کیږي

دselect operation syntax په لاندي ډول ده

$\sigma_{\text{<selection condition>}}(R)$ په دی کی سګما د select معنی ورکوي

لومړي سګما علامه بیا condition لیکو او ورسته د هغه تیبل نوم لیکو له کوم تیبل نه چی ریکارډونه را اخلو.

کیدای شي چي شرطونه له یو زیات وي مثال په ډول

$\sigma_{\text{(Dip=4 AND Salary>25000) OR (Dip=5 AND Salary>30000)}}(\text{EMPLOYEE})$

مثالونه: د EMPLOYEE په نامه تیبل څخه هغه ریکارډونه چي په 4 نمبر department کي کار کوي سلیکټ کړي؟

$\sigma_{\text{Dept = 4}}(\text{EMPLOYEE})$

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کارکوونکی راته انتخاب کړی چی معاش يی له 30000 څخه زيات وي

$\sigma_{Salary>30000}$ (EMPLOYEE)

**The PROJECT Operation:** دا operation له ټيبل څخه موږ ته کالمونه يا attribute انتخابوي او هغه کالمونه چي له condition سره برابر نه وي له هغه څخه صرف نظر کوی دا هم دوه برخی لري

1 . هغه کالمونه راته انتخابوي چي له condition سره برابر وي

2 . او له هغه کالمونه څخه صرف نظر کيږي چي له condition سره نه وی برابر وي

**Select operation Syntax**

**$\pi_{<projection\ condition>}$(R)** په دغه کی د پای د **PROJECT** معنی لري

د هغو کارکوونکو نومونه، تخلص او معاش راته انتخاب کړی

$\pi_{name,\ Lname,\ salary}$(EMPLOYEE)

مثال: د کارکوونکو جنس او معاش راته انتخاب کړه $\pi_{gender,\ salary}$(EMPLOYEE)

| Sex | Salary |
|---|---|
| M | 30000 |
| M | 40000 |
| F | 25000 |
| F | 43000 |
| M | 38000 |
| M | 25000 |
| M | 55000 |

## The Set Operations in Relational Algebra

موږ به دلته دري عمليي تشريح کوو چي عبارت دي له union, intersection, او set difference (د سيټونو اتحاد، تقاطع او د سيټونو منفي عمليه) خو دلته د سيټونو څخه ټيبلونو مراد دي

او په دي U علامی سره ښوودل کيږي مثال : لومړي ټيبل U دوهم ټيبل

**UNION:** په دغه عمليه کي ټول هغه ريکارډونه چي په **R** او **S** ټيبلونو کي موجود وي يعني هغه ريکاډونه چي په **R** ټيبل کي موجود وي او په **S** په ټيبل کی هم موجود وی له دواړو څخه يو ريکارډ را اخيستل کيږي او په دريم ټيبل کي ځاي پرځاي کيږی او داسی ډول سره ښودل کيږي **R U S**

اتحاد په دي **U** علامی سره ښوودل کيږي مثال : لومړي ټيبل **U** دوهم ټيبل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د STUDENT او INSTRCTOR دوه ټيبلونو اتحاد معلوم کړي

**STUDENT ∪ INSTRUCTOR** **Result(b) Table**

(a) STUDENT

| Fn | Ln |
|---|---|
| Susan | Yao |
| Ramesh | Shah |
| Johnny | Kohler |
| Barbara | Jones |
| Amy | Ford |
| Jimmy | Wang |
| Ernest | Gilbert |

INSTRUCTOR

| Fname | Lname |
|---|---|
| John | Smith |
| Ricardo | Browne |
| Susan | Yao |
| Francis | Johnson |
| Ramesh | Shah |

(b)

| Fn | Ln |
|---|---|
| Susan | Yao |
| Ramesh | Shah |
| Johnny | Kohler |
| Barbara | Jones |
| Amy | Ford |
| Jimmy | Wang |
| Ernest | Gilbert |
| John | Smith |
| Ricardo | Browne |
| Francis | Johnson |

**INTERSECTION:** په دغه عمليه هغه ريکارډونه را اخيستل کيږی چی په دواړو ټيبلونو کی يوشان وي مثلاً يو ريکارډ په R ټيبل کي موجود ده او په S ټيبل کي هم موجود ده له دواړو ټيبلونو څخه همدغه يو ريکارډ را اخسيتل کيږي او له نورو څخه صرف نظر کيږی **R ∩ S,** تقاطع په دی ∩ علامي سره ښودل کيږي

د STUDENT او INSTRCTOR دوه ټيبلونو تقاطع معلوم کړي

**STUDENT ∩ INSTRUCTOR** **Result © Table**

(a) STUDENT

| Fn | Ln |
|---|---|
| Susan | Yao |
| Ramesh | Shah |
| Johnny | Kohler |
| Barbara | Jones |
| Amy | Ford |
| Jimmy | Wang |
| Ernest | Gilbert |

INSTRUCTOR

| Fname | Lname |
|---|---|
| John | Smith |
| Ricardo | Browne |
| Susan | Yao |
| Francis | Johnson |
| Ramesh | Shah |

(c)

| Fn | Ln |
|---|---|
| Susan | Yao |
| Ramesh | Shah |

**SET DIFFERENCE (or MINUS):** په دغه عمليه کی هغه ريکارډونه ښودل کيږي چي په دواړو کی توپير ولري مثال په R او S ټيبلونو کي دوه ريکارډونه يوشان دي او نور ټول مختليف دي R – S عمليه کي دغه دوه ريکارډونه ختميږی نور ټول په دريم ټيبل کی ښودل کيږی او د سيټونو تفريق په (–) علامی باندي ښودل کيږي مثال: لومړي ــ دوهم ټيبل

**R ∪ S = S ∪ R** او **R ∩ S = S ∩ R** که لومړی هر ټيبل وليکو هيڅ فرق نه کوي

مګر Set difference کي **R – S ≠ S – R** نه دی سره مساوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د STUDENT او INSTRCTOR دوه ټیبلونو تفریق معلوم کړي

(a) STUDENT

| Fn | Ln |
|---|---|
| Susan | Yao |
| Ramesh | Shah |
| Johnny | Kohler |
| Barbara | Jones |
| Amy | Ford |
| Jimmy | Wang |
| Ernest | Gilbert |

INSTRUCTOR

| Fname | Lname |
|---|---|
| John | Smith |
| Ricardo | Browne |
| Susan | Yao |
| Francis | Johnson |
| Ramesh | Shah |

(d)

| Fn | Ln |
|---|---|
| Johnny | Kohler |
| Barbara | Jones |
| Amy | Ford |
| Jimmy | Wang |
| Ernest | Gilbert |

**STUDENT - INSTRUCTOR** **Result (d) Table**

INSTRUCTOR-SUDENT Result(e) Table

(e)

| Fname | Lname |
|---|---|
| John | Smith |
| Ricardo | Browne |
| Francis | Johnson |

**The Cartesian Product:** دي ته CROSS PRODUCT یا CROSS JOIN هم ویل کیږي چي د دوو ټیبلونو د ریکارډونو ضرب عملیه ده او (X) سره ښودل کیږي

دا هم binary set عملیه ده مګر هغه ټیبلونه چي دغه عملیه وربانديي سرته رسوو باید د ټیبلونو عناصر مختلیف وي او ددي عملیی محصول د ټولو ټیبلونو ریکارډونه په نوي ټیبل کي ځاي پر ځاي کیږي

که چیرته د دوو ټیبلونو attributes یو ډول نومونه لري مثال ID او یا name په دواړو ټیبلونو کي موجود دی نو دلته ضرب عملیه نه ترسره کیږي سیستم دا نه پیژني چی دا اوس د student name ده که د customer name ده

دا ستونزه د ختمولو لپاره لومړی د ټیبل نوم او بیا ډاټ لیکو او وروسته attribute لیکو مثال:

Rbooks × Rlendings (id, name, author,id,name,bookid)

دا ستونزه دا ډول حل کوو چي د Rename په نوم یادیږي (books.id,. .. , lendings.id,. . .)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**The JOIN Operation:** په دغه عمليه کي له دوو تيبلونو څخه ډيټا يو تيبل ته رازي مثال يو تيبل کي دوه ريکارډونه دی او بل تيبل کي دري ريکارډونه دي دواړه چي سره شي پينځه ريکارډونه کيږي ادا عمليه په دغه ⋈ سره ښودل کيږي

که چيرته موږ وغواړو چي له دوو تيبلونو څخه معلومات را واخلو نو د **Join** عمليی سره په اسانی سره کولاي شو تر څو کار ترسره کړو

## Type of Join Operation

1. **THETA JOIN:** په دغه کی ټول هغه ريکارډونه له دواړو تيبلونو څخه را اخلي کوم چي موږ condition ورته ورکړي وي مثال :

$$\mathcal{R}_1 \bowtie_{A\theta B} \mathcal{R}_2$$

تيتا **θ** به له Relation operator **{<,≤,=,>,≥}** څخه يو وي

2. **EQUIJOIN:** په دغه عمليه کي هر وخت د مساوي علامه کارول شوي وي

$$\mathcal{R}_1 \bowtie_{A=B} \mathcal{R}_2 = \sigma_{A=B}(\mathcal{R}_1 \times \mathcal{R}_2)$$

3. **NATURAL JOIN:** دغه Join هغه وخت ترسره کيږي چي د attribute نومونه يوشان وي په دغه حالت کي به د Rename عمليه ترسره کوي

مثال: **R 1 , R 2** تيبلونه څخه ادا **join X 1 ,X 2 ,X 3** کوو

(R1.X1 = R2.X1) ∧ (R1.X2 = R2.X2) ∧ (R1.X3 = R2.X3)

د Join نور ډولونه هم شته Semi Join, Outer Join (Left Outer Join, Right Outer Join, Full Outer Join)

## Summary of Relational Algebra Operations

| OPERATION | PURPOSE | NOTATION |
|---|---|---|
| SELECT | Selects all tuples that satisfy the selection condition from a relation *R*. | $\sigma_{\text{<selection condition>}}(R)$ |
| PROJECT | Produces a new relation with only some of the attributes of *R*, and removes duplicate tuples. | $\pi_{\text{<attribute list>}}(R)$ |
| THETA JOIN | Produces all combinations of tuples from $R_1$ and $R_2$ that satisfy the join condition. | $R_1 \bowtie_{\text{<join condition>}} R_2$ |
| EQUIJOIN | Produces all the combinations of tuples from $R_1$ and $R_2$ that satisfy a join condition with only equality comparisons. | $R_1 \bowtie_{\text{<join condition>}} R_2$, OR $R_1 \bowtie_{(\text{<join attributes 1>}),(\text{<join attributes 2>})} R_2$ |
| NATURAL JOIN | Same as EQUIJOIN except that the join attributes of $R_2$ are not included in the resulting relation; if the join attributes have the same names, they do not have to be specified at all. | $R_1 *_{\text{<join condition>}} R_2$, OR $R_1 *_{(\text{<join attributes 1>}),(\text{<join attributes 2>})} R_2$ OR $R_1 * R_2$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| UNION | Produces a relation that includes all the tuples in $R_1$ or $R_2$ or both $R_1$ and $R_2$; $R_1$ and $R_2$ must be union compatible. | $R_1 \cup R_2$ |
| INTERSECTION | Produces a relation that includes all the tuples in both $R_1$ and $R_2$; $R_1$ and $R_2$ must be union compatible. | $R_1 \cap R_2$ |
| DIFFERENCE | Produces a relation that includes all the tuples in $R_1$ that are not in $R_2$; $R_1$ and $R_2$ must be union compatible. | $R_1 - R_2$ |
| CARTESIAN PRODUCT | Produces a relation that has the attributes of $R_1$ and $R_2$ and includes as tuples all possible combinations of tuples from $R_1$ and $R_2$. | $R_1 \times R_2$ |
| DIVISION | Produces a relation $R(X)$ that includes all tuples $t[X]$ in $R_1(Z)$ that appear in $R_1$ in combination with every tuple from $R_2(Y)$, where $Z = X \cup Y$. | $R_1(Z) \div R_2(Y)$ |

منځنی ازمویني پوري د Fundamental of Database لند ليکچرنوټ پاي

Wiqade

(c) ketabton.com: The Digital Library


Wiqade

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**